# هر چا ته چې د دغو لوښو پالنه ورپه غاړه شوه، نو نېک چلند يې ورسره وکړو، د اور له عذاب څخه به يې د ساتنې سبب وګرځي

د مؤمنانو له مور او د نبي صلی الله علیه وسلم له مېرمنې؛ عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی چې هغې نبي صلی الله علیه وسلم ته ویلي وايي چې: يوه ښځه د خپلو دوو لوڼو سره راغله او له مايې د مرستې غوښتنه کول، نو زما سره یوازې له یوې خرما پرته نور هېڅ نه و، هغې ته مې ورکړه، نو هغې د خپلو لوڼو ترمنځ وویشله او بيا پاځېده او لاړه، نو پيغمبر  راغی، ما ورته دا پېښه بيان کړه، هغه وفرمايل: «هر چا ته چې د دغو لوڼو پالنه ورپه غاړه شوه، نو نېک چلند يې ورسره وکړو، د اور له عذاب څخه به يې د ساتنې سبب وګرځي».

[صحيح دی] [متفق علیه دی]

د مؤمنانو مور عائشې رضي الله عنها وويل چې يوه ښځه د خپلو دوو لوڼو سره راغله او خواړه يې غوښتل، عائشې" رضي الله عنها یوازې یوه خرما درلوده، هغې ته يې ورکړه، ښځې هغه خرما د خپلو لوڼو ترمنځ وويشله او خپله يې ترې هېڅ ونه خوړل، وروسته ولاړه، نو کله چې پيغمبر  راغی، عائشې ورته دا پېښه بيان کړه، هغه وفرمايل: چاته چې د دې لوڼو پالنه ور تر غاړې شوه او نېک چلند يې ورسره وکړ، ښه روزنه يې ورکړه، خواړه او څښاک يې ورکړل، په جامه يې پټې وساتلې او صبر يې پرې وکړ، نو د نومورې لپاره به يې د اور پر وړاندې پرده وګرځي.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee